د امربالمعروف، نهی عن المنکر او شکایتونو اورېدلو وزارت
له رسنیو سره د اطلاعاتو او اړیکو امریت


# د مرکزي ۳۱۳ قول اردو زیاتره نظامي مسؤلینو د امربالمعروف سپاربښتنې عملي کړې دي

۲۵ ذوالحجه ۱۴۴۳ هـ.ق

د امربالمعروف وزارت د نظامي برخې ازاله منکراتو رئیس مولوي رازمحمد حامد د مرکزي ۳۱۳ قول اردو له لیوا څخه د سپاربښتنو د پلي کولو په پار لیدنه وکړه.

دې لیدنه کې لومړی د ازاله منکراتو رئیس د یادې لیوا له قومندان مولوي محمد نظیر سره ولیدل او د یاد وزارت طرزالعمل یې ورسره شریک کړ.

وروسته مولوي راز محمد حامد د دغې لیوا د مسؤلینو له اطاقونو او کاري دفترونو څخه لیدنه وکړه څو متخلف مسؤلینو سره قانوني چلند وکړي.

مولوي حامد وویل: د دغې لیوا ۹۹% مسؤلینو د امربالمعروف وزارت سپاربښتنې او فرمانونه عملي کړي او مخکې له مخکې یې په خپلو لیکو کې اصلاحات راوستي دي.

د نوموړي په وینا کم عمره او بې ږیرې هلکان او هغوی چې ویښتان په سنت طریقه نه برابروي له نظامي لیکو څخه ایستل کیږي.

د یادې لیدنې په اخیر کې هغه کمه اندازه مسؤلین چې د یادو سپاربښتنو په خلاف یې عمل ترسره کړی وو د دغې لیوا د مسؤلینو په ضمانت او وعده اخیستلو سره معاف شول او هم یې د امربالمعروف مسؤلینو ته ډاډ ورکړ چې بل ځل به داسې متخلف عمل ورنه څرګند نه شي.